د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 22 اګست، کال 2025ء (بمطابق: 13 صَفَر شریف، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بیان

پهٔ نوم

# د ولادتِ مصطفٰے برکتونه

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- پهٔ قرآنِ کریم کښې د مِیلاد ذِکر
- د بعثت شریف یو څو مقصدونه
- میلاد کول هُم د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ تعظیم کښې شامل دي
- د جشنِ ولادت نمانځلو 12 مَدَني ګلونه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

شفاعت کوونکي آقاء مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې پۀ ما باندې سحر او ماښام 10، 10 کرته دُرُودِ پاک لولي، د هغۀ به د قيامت پۀ ورځ زما شفاعت نصيب کيږي۔ [1]

ہمیں جائیں گے خُلد میں سب سے پہلے نبی کے ہیں ہم اور جنت نبی کی
بنائے گئے ہم شفاعت کی خاطر ہمارے لیے ہے شفاعت نبی کی [2]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۚ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۶۴﴾ (پاره:4، سورۀ آلِ عمران:164)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دا زمونږ خوش قِسمتي ده چې يو ځل بيا ماهِ نُور، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ميلاد مياشت يعني ربيع الاول شريف تشريف راوړنکې ده۔

---

1...الترغيب والترهيب، کتاب نوافِل، الترغيب فی آيات و اذکار...الخ، صفحه:223، حديث:29۔
2...قبالۀ بخشش، صفحه:313۔

پُرنُور ہے زمانہ صبحِ شبِ وِلادت | پردہ اُٹھا ہے کس کا صبحِ شبِ وِلادت
دِل جگمگا رہے ہیں قسمت چمک اُٹھی ہے | پھیلا نیا اُجالا صبحِ شبِ وِلادت
پیارے ربیع الاول تیری جھلک کے صدقے | چمکا دیا نصیبا صبحِ شبِ وِلادت (1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! میلاد شریف نمانځل ❀ د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د راتلو په میاشت کښې خوشحالي کول ❀ کوروُنه ❀ کوڅې، محلې ښائسته کول ❀ د میلاد شریف محفلونه کول ❀ په دې خوشحالئ کښې لنګر تیارول ❀ خوږل تقسیمول وغیره ډیره د سعادت خبره ده بلکې دا هغه نیک کار دے په کوم کښې چې د دِین او د دُنیا سعادتونه راجمع کړے شوي دي۔

آمنہ کے گھر مُحَمَّد کی وِلادت ہو گئی | خوب جھومو اَہلِ ایماں عیدِ میلادُ النبی
خوب جھومو اے گنہگارو تمہاری عید ہے | ہو گیا بخشش کاساماں عیدِ میلادُ النبی
غم کے مارو! بےسہارو! بس تمہاری عید ہے | ہو گیا راحت کا ساماں عیدِ میلادُ النبی
غم نصیبو! اب غموں کا دُور اندھیرا ہو گیا | تم مناؤ خوب خوشیاں عیدِ میلادُ النبی (2)

## په قرآنِ کریم کښې د میلاد ذِکر

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ټول مخلوق کښې د ټولو نه افضل او اعلیٰ دے۔ په قرآنِ کریم کښې په ټولو 7 زره ځایونو کښې د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکر مبارک په واضحه لفظونو کښې راغلے دے۔(3)

❀ په قرآنِ کریم کښې د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکو نومونو ذِکر هم دے ❀ د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ولادت د ځائے ذِکر هم دے ❀ د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صفاتو ذِکر هم دے ❀ د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فضائلو ذِکر هم

---

1… ذوقِ نعت، صفحه:969493 ملتقطًا۔
2… وسائلِ بخشش، صفحه:381380 ملتقطًا۔
3… بصائر ذوی التمیز ، الباب الثلاثون، بصیرة فی ذکر نبینا ، جلد:6 ، صفحه:17۔

دے او اَلْحَمْدُلِلّٰه! پهٔ قرآنِ کریم کښې درې ځلور کرته نهٔ بلکې د یوې محتاط اندازې مطابق پهٔ ټولو 27 ځایونو کښې د مِیلاد (یعني د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنیا ته د تشریف راوړلو) ذِکر موجود دے۔

حسنؔ وِلادتِ سرکار سے ہوا روشن | مرے خُدا کو بھی پیاری ہے بارہویں تاریخ[1]

د بیان پهٔ شروع کښې مونږ د ځلورمې سیپارې د سورۀ آلِ عِمران د آیت: 164 د اوریدو سعادت حاصل کړو ❁ پهٔ دې آیت مبارک کښې هم د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنیا ته د تشریف راوړلو بیان دے ❁ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فضائلو او مناقبو بیان دے ❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنیا ته تشریف راوړو، رسول راغلو ❁ د اِیمان ورکولو د پاره راغلو ❁ د قرآن ښودلو د پاره راغلو ❁ د عِلم او د حکمت ښودلو د پاره راغلو، د زړونو د روښانه کولو د پاره راغلو او بے لارې شوي انسانیت ته د حق د لارې ښودلو د پاره یـې تشریف راوړو ❁ دا ټولې خبرې پهٔ دې آیت کښې بیان شوې دي۔

اوس لږ غور وکړئ چې مونږ چې کله مِیلاد کوو ❁ د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مِیلاد محفل کوو ❁ د مِیلاد اِجتماع کوو نو پهٔ دې کښې څهٔ وي؟ ❁ تِلاوت وي ❁ نعتونه وئیلے کیږي ❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت باسعادت بیان وي ❁ د هغوئي د معجزو بیان وي ❁ د هغوئي د فضائلو او مناقبو بیان وي۔ یعني هٔغه خبرې کومې چې پهٔ قرآن او حدیث کښې ذِکر شوې، هم هٔغه بیانیږي۔ ځکه ثابته شوه چې پهٔ مِیلاد کولو کښې هیڅ باک نشته بلکې دا ډیر د سعادت والا کار دے۔ الله پاک دې مونږ ته د ښهٔ جوش او جذبې سره، د ذوق او شوق سره د میلاد د خوشحالو نمانځلو توفیق راعطا کړي۔ راځئ چې د آیت مبارک وضاحت واورو:

---

1...ذوقِ نعت، صفحه:122۔

# د آیت مبارک مختصر وضاحت

الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَقَدْ (پارہ:4، سورۂ آلِ عمران:164) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه |

د لَام معنیٰ ده : ضرور- قَدْ د قَد معنیٰ ده: تحقیق، بے شکه- پهٔ عربیِ (*Arabic*) کښې چې کله یوه خبره د مضبوطولودپاره د تاکید سره بیانیږي نو دا لفظ اِستعمالولے شي، د دې مطلب دا دے چې اوس چې مخکښې کومه خبره بیانیدونکې ده، هغه ډیره اهمه هم ده او د دې خبرې نه اِنکار کوونکي هم ډیر دي، ځکه الله پاک دوه تاکیدونه ذِکر کړهٔ- لَقَدْ ضرور،په تحقیق سره[(1)]

| | |
|---|---|
| مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ (پارہ:4، سورۂ آلِ عمران:164) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: الله پهٔ ایمان والؤ باندې لوئي اِحسان وکړو- |

دلته دوه خبرې دي: **(1)**: یو خو دا چې د کوم نعمت او اِحسان ذِکر راتلونکے دے، هغه صرف پهٔ مسلمانانو باندې نهٔ بلکې پهٔ ټول اِنسانیت (*Humanity*)باندې وو خو د الله کریم دا فضل او اِحسان صِرف مسلمانان مني او پهٔ دې شُکر ادا کوي، ځکه یې وفرمائیل: الله پاک پهٔ مسلمانانو باندې اِحسان وفرمائیلو**(2)**: دویمه خبره دا چې بغیر د محنت او د معاوضې نه چې صِرف د اِحسان پهٔ توګه کوم اِنعام وکړے شي، هغې ته پهٔ عربیِ کښې مَنّ وئیلے شي- [(2)]یعني مونږ د دې لائق نهٔ وو چې پهٔ مونږ باندې دا اِحسان شوے وے خو رَبِّ قدیر صرف پهٔ خپل عظیم فضل پهٔ مونږ باندې اِحسان وفرمائیلو، څهٔ اِحسان یې وکړو؟ فرمائي:

---

1...تفسیرِ نعیمی، پارہ:4، آلِ عمران، زیرِ آیت:164، جلد:4، صفحه:346 خلاصةً-
2...تفسیرِ نعیمی، پارہ:4، آلِ عمران، زیرِ آیت:164، جلد:4، صفحه:347 خلاصةً-

اِذْ بَعَثَ فِیْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ (پاره:4، سورۂ آلِ عمران:164)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: چې کله يې په هغوئي کښې يو رسول مبعُوث کړلو کوم چې هُم د هغوئي نه دے۔

سُبْحٰنَ الله! دا دے د رَبِّ کريم هُغه عظيم الشان اِحسان کوم چې الله پاک مونږ ته زباتلے دے۔

رَبِّ اعلیٰ کی نعمت پہ اعلیٰ درود | حق تَعالیٰ کی مِنَّت پہ لاکھوں سلام
ہم غریبوں کے آقا پر بےحد درود | ہم فقیروں کی ثَرْوَت پہ لاکھوں سلام(1)

وضاحت: رَبِّ کريم کوم چې د ډير لوئي شان والا دے، د هغهٔ په اعلیٰ ترين نعمت محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دې اعلیٰ درود وي، الله پاک خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ د هدايت د پاره په راليږلو چې کوم اِحسان وکړو، په هُغه خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې په لکونو سلامونه وي۔ هُغه خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم چې د غريبانانو آقا دے، زمونږ د فقيرانو دولت دے، په هغوئي باندې دې بے حده درود او په لکونو سلامونه وي۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دلته يوه ايمان تازه کوونکې نکته هم ده، وګورئ چې رَبِّ کريم وفرمائيل:

اِذْ بَعَثَ فِیْهِمْ رَسُوْلًا

د بَعَثَ معنیٰ ده: راليږل۔ او راليږلے هغه شي، کوم چې د مخکښې نه موجود وي۔ په قرآنِ کريم کښې زما، ستاسو او د ټولو اِنسانانو دُنيا ته د راتللو هم ذِکر دے خو په دې لفظونو سره الله پاک فرمائي:

خَلَقَ الْاِنْسَانَ (پاره:14، سورۂ النحل:4)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: هغه اِنسان پيدا کړو۔

---

1... حدائقِ بخشش، صفحه:298۔

یعني زمونږ او د عامو اِنسانانو د پاره لفظ اِستعمال شو: خَلَقَ (د دې معنیٰ ده: پیدا کول)- د رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره لفظ اِستعمال شو: بَعَثَ د دې معنیٰ وي: رالیږل- ❁ دُنیا ته مونږ هم راغلو ❁ دُنیا ته خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم تشریف راوړلو ❁ بیا پهٔ دې لفظونو کښې فرق ولې دے؟: ځکه چې د هغوئي راتلل بدل دي او زمونږ راتلل بدل ❁ هغوئي د هدایت ورکولو د پاره راغلل او مونږ د هدایت اخستلو د پاره ❁ هغوئي راغلل د ایمان ورکولو د پاره او مونږ راغلو د ایمان اخستلو د پاره ❁ هغوئي راغلل د قرآن ښودلو د پاره او مونږ راغلو د قرآن زده کولو د پاره ❁ هغوئي د رَبِّ کریم د ټولو نه اعلیٰ نعمت دے کوم چې د تحفې او د اِحسان پهٔ توګه مونږ ته راعطا کړے شوے دے- (1)

| | |
|---|---|
| دِل جگمگا رہے ہیں قسمت چمک اُٹھی ہے | پھیلا نیا اجالا صبحِ شبِ وِلادت |
| دِن پھر گئے ہمارے، سوتے نصیب جاگے | خورشید ہی وہ چمکا صبحِ شبِ وِلادت (2) |

مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ پهٔ دې ځائے کښې فرمائي: د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنیا ته راتلل داسې دي لکه څنګه چې یو حاکِم د یو ځائے نه بل ځائے ته بدلیږي، د دې مطلب به دا نهٔ وي چې هُغه اَفسر هُم اوس پیدا کړے شوے دے، بلکې هغه موجود خو د مخکښې نه وو خو اوس یې صرف ځائے بدل شوے دے، هُم داسې د اَوَّل او آخِر نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُور مبارک د ټول مخلوق نه مخکښې پیدا شوے وو، دُنیا ته د راتلو نه مخکښې نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ عالَمِ اَرواح کښې رسول وو، ټولو نبیانو ته یې فیض ورکولو، لکه هُغه وخت چې رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ عالَمِ اَرواح کښې اوسیدو او د انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلام پهٔ ذریعه یې دُنیا ته خپل انوار او تجلیات عطا کول، بیا رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله دُنیا ته تشریف راوړو او بلا واسطه یې دُنیا ته عطا کول شروع کړل- (3)

---

1...تفسیرِ نعیمی، پارہ:4، آلِ عمران، زیرِ آیت:164، جلد:4، صفحہ:347 مفصلاً۔
2...ذوقِ نعت، صفحہ:9694 ملتقطًا۔
3...تفسیرِ نعیمی، پارہ:11، التوبہ، زیرِ آیت:128، جلد:11، صفحہ:151 مفصلاً۔

| | |
|---|---|
| ہو مبارک اَہلِ ایماں عیدِ میلاد النبی | ہو گئی قسمت درخشاں عیدِ میلاد النبی |
| چار جانِب دُھوم ہے سرکار کے میلاد کی | جھومتا ہے ہر مسلماں عیدِ میلاد النبی |
| کِھل اُٹھے مرجھائے دِل اور جان میں جان آگئی | آگئے ہیں جانِ جاناں عیدِ میلاد النبی |
| یانبی! اپنی وِلادت کی خوشی میں اپنا غم | دیجئے طیبہ کے سُلطاں عیدِ میلاد النبی(1) |

## د بعثت شریف یو څو مقصدونه

د دې نه پس الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ<br>(پاره:4، سورۂ آلِ عمران:164) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: هغه د هغوئي په مخکښې آيتونه تلاوت کوي او هغوئي پاک کوي- |

يعنې محبوبِ رحمان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف ولې راوړو؟ د دې يو څو مقصدونه دي: (1): هغوئي دې د پاره تشريف راوړو چې د الله پاک آيتونه مؤمنانو ته بيان کړي (2): هغوئي دې د پاره تشريف راوړو چې خلق د خرابو عقيدو، د خرابو اعمالو، د خرابو اخلاقو، د خراب کردار، د خرابو نظرياتو غرض دا چې د هر قِسمه ګندګۍ نه پاک صفا کړي او د هغوئي زړونه روښانه او ځليدونکي جوړ کړي-(2)

| | |
|---|---|
| یہ سیدھا راستہ حق کا بتانے آئے ہیں | یہ حق کے بندوں کو حق سے مِلانے آئے ہیں |
| یہ بھولے بچھڑوں کو رستے پہ لانے آئے ہیں | یہ بھولے بھٹکوں کو ہادی بنانے آئے ہیں |
| خدائے پاک کے جلوے دکھانے آئے ہیں | دِلوں کو نُور کے بُقعے بنانے آئے ہیں(3) |

نور فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۚ<br>(پاره:4، سورۂ آلِ عمران:164) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: او هغوئي ته د کتاب او حِکمت تعليم ورکوي- |

---

1...وسائل بخشش، صفحہ:381379 ملتقطًا۔
2...تفسیرِ نعیمی، پارہ:4، آلِ عمران، زیرِ آیت:164، جلد:4، صفحہ:349 خلاصۃً۔
3...سامانِ بخشش، صفحہ:137۔

دلته د کتاب نه مُراد دے: قرآنِ کریم او د حکمت یوه معنیٰ ده: سُنَّت او حدیث-[1]
مطلب دا دے چې محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خلقو ته د اللّٰه
پاک د کتاب ښودلو، د حدیثونو بیانولو او د خپلو سُنَّتو ښودلو د پاره تشریف راوړے دے-

## د قرآن د زده کولو صحیح انداز

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن سبا د فتنو دور دے، په خلقو کښې مسلسل ناراستي
راروانه ده ، په بعضې خلقو کښې د قرآنِ کریم د زده کولو شوق راپیدا شي، ښه خبره ده
خو دوئي د قرآنِ کریم د زده کولو د پاره د سوشل میډیا نه کار اخلي، هٰغه خلق کوم چې
بخپله جاهلان دي، د هغوئي په ویډیوګانو کتلو، د هغوئي په کلپونو اوریدو په قرآنِ کریم
باندې د ځان پوهه کولو کوشش کوي- یاد ساتئ چې قرآنِ کریم څۀ عام کتاب نۀ دے،
په دې باندې پوهیدل دومره اسان نۀ دي- بخپله غور وکړئ چې قرآنِ کریم هٰغه عظیم
الشان کتاب دے چې د دې کتاب د ښودلو د پاره اللّٰه پاک اِمامُ الانبیا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم
رالیږلے دے- واضحه خبره ده چې نصاب (***Syllabus***) چې څومره عظیم او د څومره
لوئي کلاس وي، استاذ به هم هٰغه همره ماهر منتخب کولے شي، اوس ووایئ چې هٰغه
عظیم کتاب د کوم د ښودلو د پاره، د زده کولو د پاره چې رَبِّ رحمان اِمامُ الانبیا
صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رالیږلے وي، آیا هٰغه کتاب به مونږ صرف د یو څو ویډیو کلپونو او د
درې څلورو اُردو ترجمو په لوستو زده کوو نو زده به یې کړو؟ نا--!! دا عظیم نصاب دے
❀ د دې د زده کولو او په دې د ځان پوهه کولو د پاره باقاعده د یوعاشقِ رسول عالِمِ دِین په
خِدمت کښې حاضریدل او د هغوي زده کول پکار دي ❀ که د قرآنِ کریم د تفسیر په
باره کښې ویډیوګانے وغیره کتل وي نو هغه هم د یوعاشقِ رسول مستند عالِمِ دِین ګورئ
❀ د عاشقانِ رسول علمائے کرامو لیکلے شوي تفسیرونه لولئ ❀ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي
تفسیر صراط الجنان مونږ ته راکړے دے، دا لولئ! ❀ تفسیر نُور العرفان لولئ!

---

1...تفسیرِ نعیمی، پارہ:4، آلِ عمران، زیرِ آیت:164، جلد:4، صفحہ:346 خلاصةً۔

❁ تفسیر خزائن العرفان لولئ! ❁ د تفسیر صراط الـجنان خو اَلْحَمْدُلِلّٰه! موبائل ایپلي کیشن هم موجود دے، هغه پهٔ خپل موبائل کښې انستال کړئ! د دې نه فائده واخلئ! پهٔ مَدَني چینل باندې د قرآنِ کریم د دَرس پروګرامونه ګورئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! د قرآنِ پاک نُور او فیضان به مو نصیب شي- الله پاک دې د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

د دې نه پس الله پاک فرمائي:

وَ اِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۶۴﴾ (پاره:4، سورۂ آلِ عمران:164)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اګر چې دا خلق د دې نه مخکښې یقیناً پهٔ ښکاره ګمراهۍ کښې پراته وو-

پهٔ دې کښې هم د رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت مبارک دے، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه دا داسې بیان کړے دے:

سب چمک والے اُجلوں میں چمکا کیے | اندھے شیشوں میں چمکا ہمارا نبی [1]

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خلیفه، مولانا ظفر الدِّین بهاري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې شعر پهٔ وضاحت کولو فرمائي: که نمر ته یوه شیشه سیدها کینبودلے شي نو د نمر رڼا چې پهٔ دې شیشه پریوځي نو داسې به محسوسیږي، لکه چې پهٔ زمکه باندې هم یو نمر موجود دے یعنې هٰغه شیشه به دومره پړقیږي خو که د دې نمر مخې ته، هٰغه شیشه اُلټا کیږدې یعنې د شیشې تور اړخ نمر ته کیږدې نو که یو نهٔ پهٔ زرګونو نمرونه هم وي نو هغه نهٔ شي روښانه کولے- آؤ! د داسې ړندې شیشې روښانه کول به هم د طیبه د سپوږمۍ، د مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کار وي- وګورئ چې د حضرت اسحاق عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله تر د حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پورې چې څومره هم نبیانو او رسولانو تشریف راوړے دے، هٰغه ټول پهٔ بني اسرائیلو کښې راغلل، بني اسرائیل د مذهب نه خبر وو، د هغوئي پهٔ هره زمانه کښې

1... حدائقِ بخشش، صفحه:140-

دِین خور وو، چې یو نبي به تشریف یوړلو نو بَل نبي به تشریف راوړو، داسې لکه چې بني اسرائیل د سیدها کیښودے شوې شیشې په شان وو، هغوئي ته صرف د نمر د رڼاګانو ضرورت وو کوم چې به د نبیانو په تشریف راوړو پوره کیدو او د هغوئي زړونه به روښانه کیدل خو قربان شم! زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ځانګړے شان دے، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په عربو کښې تشریف راوړو، د حضرت اسماعیل عَلَیۡہِ السَّلَام په اولاد کښې یې تشریف راوړو، دا هُغه خلق وو چې په دوئي کښې د حضرت اسماعیل عَلَیۡہِ السَّلَام نه پس یو نبي هم تشریف نۀ وو راوړے، دا خلق په دِیني لحاظ سره په ډیرو تیارو کښې وو، د دوئي سره نۀ د مذهب عِلم وو، نۀ د نبوت نه خبر وو، د دوئي مثال داسې دے لکه چې اُلټا کیښودے شوې شیشه وي، د الله پاک په فضل سره د طیبه سپوږمۍ، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په داسې خلقو کښې تشریف راوړو او په خپلو نُوراني رڼاګانو یې د دوئي ړندې شیشې یعنې په تیارو کښې ډوب شوي زړونه روښانه کړل۔ (1)

دن پھر گئے ہمارے سوتے نصیب جاگے | خُورشید ہی وہ چمکا صُبحِ شبِ وِلادت (2)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مِیلاد برکتونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا یو آیت مبارک د کوم چې مونږه د اوریدو سعادت حاصل کړو، په دې آیت کښې الله پاک د محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنیا ته د تشریف راوړلو ته **لوئي اِحسان** فرمائیلے دے او چې کله الله پاک اِحسان وکړي، د الله پاک نعمت حاصل شي نو مونږ ته څۀ کول دي؟ په بل ځائے کښې الله پاک فرمائي:

1…تحفه معراج النبی، صفحه:254253 ملتقطاً۔

2…ذوقِ نعت، صفحه:96۔

www.dawateislami.net

وَ اَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿۱۱﴾
(پاره:30، سورۂ الضحیٰ:11)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د خپل رَبّ نعمت ډیر ډیر بیانوه-

معلومه شوه چې د الله پاک د طرف نه څۀ نعمت حاصل شي نو د هٰغې نعمت د شُکر ادا کولو د پاره د هغې بیانول پکار دي- مِیلاد پۀ اصل کښې دا دے، مِیلاد د نعمت شُکر دے او مونږ ته معلومه ده چې نعمت هر څومره لوئي وي، شُکر هم هٰغه همره پۀ جوش او جذبې سره ادا کولے شي- د مثال پۀ توګه ❁ تاسو ته د 10 روپو ضرورت وو، چا تاسو له درکړې- تاسو به هغۀ ته مننه ووایئ ❁ خو چې کله ستاسو پروموشن کیږي ، پۀ کار کښې، پۀ نوکرئ کښې درته ترقي میلاؤ شي، بیا څۀ کوئ؟ د دوستانو دعوت کوئ، مټایانې تقسیمولے کیږي ❁ فرض کړئ چې ستاسو اولاد نۀ وي، د وادۀ مو ډیر کلونه شوي وي، 20 کاله پس الله پاک تاسو ته د سپوږمۍ پۀ شان ښکلے ځوي درعطا کړي، پۀ داسې موقع باندې به څۀ کوئ؟ انسان د خوشحالئ نه پۀ هوا وي، د هغۀ پۀ سینه کښې زړۀ غورځنګونه وي، ښۀ پۀ فراخه زړۀ سخاوت کولے شي، پۀ ټوله محله کښې مټایانې تقسیمولے شي، خپلوان رابللے شي او پۀ خپله خوشحالئ کښې شریکولے شي، د دې نه معلومه شوه چې څومره لوئي نعمت وي، د هٰغه همره جوش او جذبې سره د هغې شُکر ادا کولے شي او خوشحالي کولے شي- چې د قرآنِ کریم نه ثابت دي چې ایمان والؤ ته د ټولو نه لوئي نعمت، د الله پاک د ټولو نه لوئي چې کوم فضل نصیب شوے دے هغه رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے نو بیا پخپله غور وکړئ چې د دې نعمت د میلاؤیدو پۀ موقع باندې مونږ ته څومره پۀ جوش او جذبې سره شُکر ادا کول پکار دي، مونږ له څومره خوشحالي کول پکار دي-

## میلاد کول هم پۀ تعظیمِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې شامل دي

پۀ 26 سیپاره، سورۂ فتح 8 او 9 آیت کښې الله پاک فرمائي:

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ۝٨ لِّتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُۚ وَتُسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ۝٩

(پاره:26، سورۀ فتح: 8، 9)

ترجمۀ کنزُالعِرفان: بے شکه مونږه تۀ ګواه او زیرے ورکوونکے او ویره اوروونکے لیږلے یې۔ د پاره د دې چې (اے خلقو!) تاسو پۀ الله او د هغه پۀ رسول ایمان راوړی او د رسول تعظیم او توقیر کوی او سحر او مابښام د الله پاکي بیانوی۔

پۀ دې آیت مبارک کښې الله پاک مونږ مسلمانانو ته د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پوره احترام او عزت کولو حکم کړے دے، علّامه اسماعیل حَقي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د میلاد محفل راجوړول هم د هغوئي پۀ احترام او عزت کښې شامل دي۔ (1)

ذکرِ میلادِ مبارَک کیسے چھوڑیں ہم بھلا | جن کا کھاتے ہیں اُنہی کے گیت گاتے جائیں گے
مُنْعَقِد کرتے رہیں گے اجتماعِ ذکرونعت | دھوم اُن کی نعت خوانی کی مچاتے جائیں گے

## د جِشنِ ولادت نمانځلو ثواب

شیخ عبد الحق مُحَدِّثِ دهلوي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د مدینے سرکار، د زړونو قرار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ولادت (یعني دنیا ته د تشریف راوړلو) پۀ شپه د خوشحالۍ کوونکو بدله دا ده چې الله پاک به پۀ خپل فضل او کرم سره دوئي جَنّاتُ النَّعِیم ته بوځي ❀ مسلمانانو همیشه د میلاد د محفلونو، د ولادت پۀ خوشحالۍ کښې د دعوتونو، د خوراکونو پخولو او د ښه صدقو او خیراتونو کولو انتظامونه کړي دي ❀ د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنیا ته د تشریف راوړلو پۀ موقع باندې ډیره خوشحالي کولے شي ❀ د الله پاک پۀ لاره کښې د زړۀ د اِخلاصه خرچ کولے شي ❀ د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وِلادت باسعادت د ذِکر انتظام کولے شي ❀ کورونه ښکلي کولے شي ❀ د دې ټولو ښۀ

---

1...تفسیر روح البیان، پاره:26، سورۀ فتح، تحت الآیة:29، جلد:9، صفحه:56۔

کارونو پهٔ برکت سره پهٔ مسلمانانو باندې د الله پاک رحمتونه نازلیږي۔ [1]

## الله پاک فخر فرمائي

د اِسلام وروِمي بادشاه، امیرِ سلطنتِ مصطفٰے، عظیم صحابئ رسول حضرت امیرِ معاویه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: یو ځل صحابهٔ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان حلقه جوړه کړې وه او ناست وو چې سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړو، نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوښتنه وکړه: مَا اَجۡلَسَکُمۡ؟ یعني اے زما صحابؤ! تاسو دلته حلقه جوړه کړي ولې ناست یئ؟ عَرض یې وکړو: جَلَسۡنَا نَدۡعُوا اللّٰہَ وَنَحۡمَدُہٗ عَلٰی مَا ھَدَانَا لِدِیۡنِہٖ وَمَنَّ عَلَیۡنَا بِکَ یعني (یَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم!) الله پاک چې ستاسو د رالیږلو سره پهٔ مونږه باندې کوم اِحسان کړے دے، زمونږ یې د دینِ اسلام هدایت نصیب کړے دے، مونږ پهٔ دغه نعمت باندې د الله پاک حمد او ثنا بیانوو او دُعاګانې کوو۔

خوږ نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بیا پوښتنه وکړه: آیا تاسو قسم خورئ چې صرف د دې مقصد د پاره ناست یئ؟ عرض یې وکړو: پهٔ الله پاک مو دې قسم وي! مونږ صِرف د دې مقصد د پاره ناست یو۔ پهٔ دې باندې رسولِ رحمت شفیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: ما (پهٔ تاسو) باندې قسم دې د پاره اونهٔ خوړو چې زما پهٔ تاسو باندې څهٔ شک وو بلکې معامله دا ده چې اوس اوس جبریلِ امین عَلَیۡہِ السَّلَام راغلے او اوئې وئیل چې یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! (ستاسو صحابهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡھُم ستاسو دنیا ته د راتلو پهٔ خوشحالۍ کښې ناست دي او د الله پاک شکر ادا کوي او ) الله پاک د فرښتو پهٔ مخکښې پهٔ دوئي باندې فخر فرمائي۔ [2]

سُبۡحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د خوږ محبوب (صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) دنیا ته تشریف راوړل پهٔ خپل حق کښې د الله پاک عظیم اِحسَان منل او خپل مینځ کښې

---

1...ماثبت من السنة، صفحه:102 ملتقطاً۔

2...نسائی، کتاب آداب القضاة، کیف یستحلف الحاکم، صفحه:861 حدیث:5436۔

کښېناستل او په دې باندې د الله پاک شکر ادا کول یا په نورو لفظونو کښې داسې ووایې چې د میلاد محفل کول ځومره د فضیلت والا کار دے چې صحابهٔ کرامو عَلیهِمُ الرِّضوَان دا کار وکړو نو الله پاک د فرښتو په مخکښې په دوئي باندې فخر وفرمائیلو۔

وه لوگ خُدا شاہدِ قسمت کے سکندر ہیں | جو سرورِ عالَم کا میلاد مناتے ہیں

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د میلاد د محفل کولو برکتونه

علمائے کرام فرمائي: ❀ میلاد کول د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د احترام کولو یو شکل دے ❀ د میلاد کولو سره مسلمان د الله پاک د یو لوئي نعمت (یعني د سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دنیا ته د تشریف راوړلو) ذِکر کوي ❀ او د دې نعمت شکر ادا کوي ❀ د میلاد په ذریعه وَعظ او نصیحت کیږي ❀ د میلاد په برکت باندې په زړهٔ کښې دِ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عظمت** زیاتیږي ❀ او د عشقِ رسول په برکت سره ایمان مضبوطیږي لکه میلاد کول چې د ایمان د مضبوطولو ذریعه ده ❀ د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر محفل ته د رحمت فرښتې راکوزیږي ❀ او د میلاد په برکت سره د دین او دُنیا بے شمیره برکتونه نصیب کیږي۔ (1)

❀ **امام جلال الدّین سیوطي شافعي** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه **فرمائي:** په کوم کور، جومات یا محلّه کښې چې میلاد شریف کولے شي ❀ فرښتے هٔغه کور، جومات او محلّه په ګیره کښې واخلي ❀ او د فرښتو سرداران یعني حضرت جبریل، حضرت میکائیل، حضرت اسرافیل او حضرت عزرائیل عَلَيهِمُ السَّلام د میلاد شریف کوونکو د پاره د رحمت او رِضوان دُعا کوي۔ په کوم کور کښې چې میلاد شریف کولے شي ❀ الله پاک هٔغه کور د قحط ❀ وبائي مرضونو ❀ وور لګیدو ❀ ډوبیدو او د داسې ډیر قسمه افتونو نه بچ ساتي ❀ دغه کور کښې اوسیدونکي د بُغض او حَسَد نه ❀ د بد نظر نه ❀ او د غلا غُلطي وغیره د خطرې نه بچ

1... میلادُ النبی منانا امتِ محمدیہ کا متفقہ عمل، صفحہ:482 484۔

کولے شي ❁ او د دغه کور اوسیدونکے یو گس چې کله وفات شي نو پۀ هغه باندې نَکِیرَین (یعنې قبر کښې د پوښتنو کوونکو فرښتو) پوښتنې اساني کړے شي۔ [1] ❁ **حضرت خواجه جنید بغدادي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **فرمائي**: د میلاد پۀ **محفل** شریف کښې د برخې اخستو او د دې **محفل** عزت او احترام کولو سره ایمان مضبوطیږي [2] ❁ **علّامه قسطلاني** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **فرمائي**: ❁ د میلاد کولو پۀ برکت سره ټول کال پۀ کور کښې امن وي ❁ د مقصدونو حاصلولو د پاره میلاد کوونکو ته خوشحالي میلاؤیږي ❁ د زړۀ مُرادونه پوره کیږي۔ [3]

*تیرا کھاواں میں تیرے گیت گاواں یا رسولَ الله | تیرا میلاد میں کیوں نہ مناواں یا رسولَالله*

## مِیلاد کول جنَّت ته بوتلونکے کار دے!

**حضرت سِرّي سقطي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **فرمائي**: څوک چې د میلاد **محفل** ته د تللو اراده وکړي، هغه پۀ اَصل کښې د جنّت باغونو ته د تللو اراده کوي، ځکه چې د میلاد **محفل** صِرف او صِرف د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **محبت** پۀ وجه راجوړولے شي او د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے چې: مَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ څوک چې زما سره **محبت** وکړي، هغه به پۀ جنَّت کښې زما سره وي۔ [4]

## د میلاد شریف پۀ برکت یـې شِفَا نصیب شوه

حضرت میاں غُلام حیدر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ بلوچستان کښې یو بُزرگ تیر شوے دے، د هغوئي یو مُرید وو، د هغه نوم وو: جمعه۔ د ډهاډر ښار اوسیدونکے وو، د هغه د علمائے کرامو د لیکلے شوؤ میلاد نامو لوستو سره ډیر شوق وو۔ یو ځل حضرت میاں غُلام حیدر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د څۀ کار د پاره ډهاډر ښار ته تشریف یوړلو، د هغوئي مُریدان د هغوئي سره د

---

1…نعمة الکبریٰ لابن حجر، صفحه:7 بتقدم و تاخر۔
2…نعمة الکبریٰ لابن حجر، صفحه:6۔
3…شرح زرقانی، المقصد الاول، ذکر رضاعه، جلد:1، صفحه:262۔
4…نعمة الکبریٰ لابن حجر، صفحه:7۔

ملاقات د پاره حاضِر شول خو جمعه نومې ګس رانغلے، میاں صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چې معلومات وکړل نو ورته معلومه شوه چې هغه د تیر یو نیم کال راسې بیمار دے او د هغهٔ ښپې وَچې شوې دي، ګرځیدے نه شي۔ میاں صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه هغه راوغوښتو او اوئې فرمائیل: نن شپه میلاد نامه ولوله! الله پاک به خیر کړي۔ مُرید د پیر پهٔ فرمان باندې لَبَّیۡک ووئیلو او د پوره یقین سره یـې ټوله شپه میلاد شریف ولوستو، الله پاک پهٔ هغه باندې کرم وکړو، سحر چې هغه راپاڅیدل غوښتل نو د کوټې پهٔ مرسته ځپله اودریدو، د میلاد شریف پهٔ برکت ورته شِفَا میلاؤ شوه او هغه پهٔ خپلو ښپو کور ته راورسیدو۔

جس وقت کوئی مَرحَلہ دُشوار آگیا | اُس وقت کام سیِّدِ ابرار آگیا
برسیں گھٹائیں رحمتوں کی جھوم جھوم کر | رحمت سراپا جب مِرا سردار آگیا[1]

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ هر کور کښې د میلاد محفلونه جوړ کړئ!

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! زمونږ د خوږ آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم میلاد پاک دے، هر کور ښکلے کړئ! کوټې هم ښکلې کړئ! ښه خوشحالي وکړئ! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول تقریباً پهٔ هر جومات کښې د میلاد محفل کیږي، د دې سره سره کوشش وکړئ چې که څوک مالداره وي او که غریب هر عاشقِ رسول دې پهٔ خپل کور کښې هم د میلاد محفل وکړي۔ چا له چې الله پاک وَس ورکړے دے، هغوئي که وغواړي نو پهٔ لوئي سطح دې د میلاد محفل جوړ کړي او څوک چې غریبانان دي، هغوئي دې هم د خپل وَس مطابق پهٔ کور کښې د میلاد محفل جوړ کړي، که وغواړي نو وړوکے شان محفل دې وکړي خو د میلاد محفل دې خامخا وکړي۔ هیڅ ګران کار نهٔ دے، پهٔ خپل کور کښې چې چرته هم اساني وي د پردې کولو سره ځائے جوړ کړئ! د کوټې د محلې که

1...وسائلِ بخشش، صفحه:200۔

زيات نهٔ وي نو 8، 10 اسلامي وروڼو له دعوت ورکړئ! د محلې د جومات د عاشقِ رسول امام صاحب پهٔ خِدمت کښې عرض وکړئ! اِنْ شَآءَالله الْكَرِيم! هغوئي به هم د محبوب د ذِکر د پاره نهٔ منع کوي، لږ شان تلاوت وکړئ، يو يا دوه نعتونه ووايئ! امام صاحب دې 15، 20 منټه بيان وکړي، که چرې د امام صاحِب يا بل عاشقِ رسول مبلغ ترکيب نهٔ جوړيږي نو بيا هم ګرانه نهٔ ده، د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله ده: **صبحِ بهاراں**، دغه شان د مکـتبة الـمدينهٔ نوري رسالې دي مثلاً **سياه فام غلام**، **بهيانک اُونٹ**، **بڈھا پجاری**، **نور والا چهره**، **نور کا کھلونا**، **عاشقِ ميلاد بادشاه** د دې نه يوه رساله يا **پهٔ شانِ مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **باندې د 12 بيانونو** والا وړوکے کتاب حاصل کړئ! که غواړئ نو د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه دې يـې مفت ډاؤن لوډ کړئ! پخپله يـې د نورو پهٔ مخکښې ولولئ، پهٔ اخِره کښې د خپل وَس مطابق څهٔ خواږهٔ وغيره تقسيم کړئ! که چرې څهٔ خواږهٔ هم نهٔ وي نو بيا هم څهٔ خبره نهٔ ده، چې څهٔ وي، هغه ټيک دي، د ميلاد د پاره لنګر يا خواږهٔ وغيره هم ضروري نهٔ دي، د الله پاک پهٔ دربار کښې پيسه او اهتمام نهٔ بلکې د زړهٔ اِخلاص قبليږي- څکه چې الله پاک کوم توفيق درکړے وي، پهٔ محفل کښې د برخه اخستونکو پهٔ خِدمت کښې يـې وړاندې کړئ! د ميلاد محفل به اوشي، د دې پهٔ برکت به اِنْ شَآءَالله الْكَرِيم! ټول کال پهٔ کور کښې برکت وي-

## د جشنِ ولادت کولو 12 مَدَني ګلونه

عظيم عاشقِ ميلاد، شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: (1): د جشنِ وِلادت پهٔ خوشحالۍ کښې پهٔ جوماتونو، کورونو، دکانونو، د سورلو (پهٔ ګاډو) باندې او پهٔ خپلو مَحَلّو کښې مدني جنډې ولګوئ ❀ ښهٔ چراغونه روښانه کړئ ❀ پهٔ کور باندې کم از کم 12 بلبونه خامخا ولګوئ ❀ د ربيعُ الاوّل شريف پهٔ دولسمه شپه د ثواب ګټلو پهٔ نيت سره د مِيلاد پهٔ اِجتماع کښې شرکت وکړئ ❀ او د صبحِ صادِق پهٔ وخت شنې شنې جنډې راواخلئ، درود شريف

لولئ او د اوښکو نه پۀ ډکو سترګو د سپرلي سحر ته هر کلے ووایئ ✿ پۀ 12 ربیعُ الاوَّل شریف که درنه کیدے شي نو روژه اونیسئ چې زمونږه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ګل پۀ مبارکه ورځ روژه نیوله او د خپل وِلادت ورځ به یـې نمانځله- [1]

(2): د کـعبۃُ الله شریف پۀ نقشه کښې مَعَاذَ الله! بعضې ځایونو کښې د ګډیانو طواف ښودلے شي، دا ګناه ده- د جاهلیت پۀ زمانه کښې پۀ کـعبۃُ الله شریف کښې 360 بُتان ایښودے شوي وو، زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فتحِ مکې نه پس کـعبۃُ الله شریف د بتانو نه پاکه کړه ځکه پۀ نقشه کښې هم بُت (ګډی) نۀ دي پکار، د دې پۀ ځائے د پلاسټک ګلونه ایښودے شئ- (د کعبې د طواف د نظارو تصویر پۀ کوم کښې چې مخونه واضحه نۀ ښکاري هغه پۀ جومات یا کور وغیره کښې لګول جائز دي، آؤ که چرې کوم تصویر پۀ زمکه باندې کیښودے شي او پۀ ولاړه ورته د کتو سره پۀ هغې کښې مخ واضحه پۀ نظر راځي نو د هغې زوړندول ناجائزه او ګناه ده) (3): داسې دروازې لګول جائزې نۀ دي پۀ کومو چې د ژوندې سرو ځناورو تصویران جوړ شوي وي- د ژوندي سرو ځناورو د تصویرانو پۀ مذمت کښې 2 مبارک حدیثونه ولولئ او د الله پاک نه ویریږئ: ✿ د (رحمت) فرښتے هٰغه کور ته نۀ ننوځي پۀ کوم کور کښې چې سپے یا تصویر وي- [2] ✿ څوک چې هم (د ژوندي سرې) تصویر جوړوي الله پاک به ورله تر هغې پورې عذاب ورکوي تر څو پورې چې پۀ هغه تصویر کښې رُوح وانۀ چولے شي او هغه به دې کښې چرته هم رُوح نۀ شي اچولے- [3]
(4): د جشن وِلادت پۀ خوشحالۍ کښې پۀ بعضې ځایونو کښې سندرې غږولے شي داسې کول ګناه ده- دې لړ کښې 2 روایتونه وړاندې کوو: ✿ د مدینے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1...مسلم، کتاب الصیام، باب استحباب صیام ثلاثة، صفحه:423، حدیث:1162 ماخوذاً۔
2...بخاری، کتاب بدء الخلق، باب اذا وقع الذباب، صفحه:845، حدیث:3322۔
3...تفسیراتِ احمدیه، پاره: 21، سورۂ لقمان، تحت الآیة: 6، صفحه:587۔

فرمائي: ما ته د ډول او شپیلۍ ماتولو حکم شوے دے [1] ❁ د حضرت ضَحاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه نه **روایت دے** چې: سندرې زړهٔ خرابوونکے او الله پاک خفه کوونکے (عمل) دے۔ [2]

**(5)**: نعتِ پاک بے شکه لګوئ خو پهٔ ورو اواز کښې او د دې احتیاط سره چې یو عبادت کوونکي، اودهٔ یا مریض وغیره ته تکلیف اونهٔ رسي او د اذان او د نمونځونو د وختونو هم خیال ساتئ۔ (د زنانه پهٔ اواز کښې نعت مهٔ لګوئ) **(6)**: پهٔ کوڅه یا سړک وغیره زمکه باندې داسې سینګار کول، جنډې لګول د کومې نه چې د پیدل تلونکو او ګاډو چلوونکو مسلمانانو ته تکلیف وي، جائز نهٔ دي **(7)**: د چراغونو د تماشې د پاره د زنانو د نا محرمه نارینو سره بے پردې وتل حرام او شرمناک عمل دے او د پرده کوونکو زنانو هم پهٔ دې طریقه د نارینو سره اختِلاط (یعني یو ځائے وتل) ډیر افسوسناک کار دے۔ د بجلۍ غلا هم جائزه نهٔ ده۔ ځکه پهٔ دې لړ کښې د بجلۍ ورکوونکي ادارې سره رابطه وکړئ او د جائزو ذریعو نه د چراغونو روښانه کولو ترتیب جوړ کړئ **(8)**: د میلاد پهٔ جُلوس کښې ډیر کوشش کوئ چې پهٔ اوداسه کښې یئ، د جَمعې سره د نمونځ کولو د پابندۍ خیال ساتئ۔ **عاشقانِ رسول د جَمعې نمونځ پریښودو والا نهٔ وي۔** **(9)**: د میلاد پهٔ جُلوس کښې د اَسپو ګاډۍ او د اوښ ګاډۍ مهٔ راولئ ځکه چې د اَس او اوښ پهٔ میتیازو او خشنو سره د عاشقانِ رسول جامو وغیره د پلیتیدو اندیښنه وي۔ **(10)**: پهٔ جلوس کښې د مکتبة المدینه رسالې ښه ډیرې تقسیم کړئ، د میوې دانې وغیره شیندلو پهٔ ځائے خلقو له پهٔ لاسونو کښې هم داسې ورکړئ، د دې پهٔ زمکه باندې د پریوتو او د ښپو لاندې د راتلو سره هم بے حُرمتي کیږي۔ **(11)**: نفرت خوروونکي چغې د عزت نه ډک د میلاد جُلوس کښې اړے ګړے پید اکولے شي، پهٔ امن سره پهٔ اوسیدو کښې ستاسو خیر دے۔ **(12)**: الله دې نهٔ کړي چې که چرې لږ شان کاڼي هم راوریږي نو بیا هم پهٔ جذباتو کښې د راتلو سره جوابي کاروائي مهٔ کوئ

---

1...مسند فِردَوس، جلد:1، صفحه:398، حدیث:1608۔
2...تفسیراتِ احمدیه، پاره:21، سورهٔ لقمان، تحت الآیة:6، صفحه:587۔

چې دغه شان به ستاسو د میلاد جلوس ګډ وډ شي او دښمن به پهٔ خپل مقصد کښې کامیاب شي۔ [1]

غُنچے چٹکے، پھول مہکے ہر طرف آئی بہار | ہو گئی صبحِ بہاراں عیدِ میلادُ النّبی [2]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## مَدَني قاعِده (Madani Qaida) موبائل ایپلي کیشن

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د قرآنِ کریم فیضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې **مَدَني قاعِده** ***(Madani Qaida)*** دے۔ پهٔ دې ایپلي کیشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډیو ***(Audio)*** شامله کړے شوې ده یعني پهٔ دې ایپلي کیشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې پهٔ کوم حرف یا کوم لفظ باندې کلک ***(Click)*** کوئ، پهٔ آډیو ***(Audio)*** کښې به د هغې **تَلَفُّظ** چلیږي، داسې د دې ایپلي کیشن پهٔ مرستې سره پهٔ اسانۍ سره مَدَني قاعِده لوستل، د دې مشق ***(Practice)*** کول او صحیح مخارج او ضروري تجوید زده کیدے شي۔ دا ایپلي کیشن پهٔ خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، بخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

راځئ چې د بیان پهٔ اخره کښې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** د صفرې یا د ربیعُ الاول پهٔ میاشت کښې کار نقصان رسوونکے او سپیرهٔ

---

1...صبحِ بهاراں، صفحه:20 24 ملتقطاً۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:380۔

ګڼل غلطه او اصل نۀ لرونکې خبره ده۔

**وضاحت:** بعضې خلق د صفرې یا د ربیعُ الاول پۀ میاشت کښې کار کول، ودانی کول وغیره ضرر رسوونکې او سپیرۀ ګڼي، خو یاد ساتئ--!! چې د صفرې یا د ربیعُ الاول یا پۀ بله یوه میاشت کښې ودانې یا بل څۀ کار کوم چې جائز وي کولے شئ، پۀ شرعي توګه پۀ دې کښې هیڅ منع نشته او د چا پۀ دې میاشتو کښې کار کول نقصان رسوونکے او سپیرۀ ګڼل غلطه او بے اصله خبره ده داسې سوچ به د جهالت پۀ زمانه کښې کیدو د کوم نه چې اِسلام منع فرمائیلې ده۔

الله پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الحُسنٰی برکتونه (وظیفه)

### یَا عَلِیُّ

دا د الله پاک ښکلے نوم دے او د دې د لوستلو یو برکت دا دے چې پۀ کوم پرڅیدلي ځائے باندې درې کرته یَا عَلِیُّ ولوستلے شي او دم کړے شي نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! صحت به یې نصیب شي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1] ...مدنی پنج سورہ، صفحہ: 251۔